
قاسم باز


۱۷ فبروری ۲۰۲۵



قاسم باز

ده نړی د اکثره ثروتمن او غیر ثروتمنده ، متمدن او غیر متمدنه هیوادو وګړی ، ځانګړی اجتماعی ، فرهنګی او افسانوی افتخارات لری چی ددی جملی هیوادونو څخه افغانستان ، ایران او عربی هیوادونه مستثنا ندی .

خدای دی نکی ، چی زما ګران هیوادوال زما د لاندینی شعر څخه په خپل ذهن کی غلط برداشت او تصویر ترسیم نکړی او یا هم وانخلی .

زما موخه دلته د څو ځانګړو ، جداګانه عقایدو مقایسه او ورتوالی دی . دا ډول نظریات په ټولو ادیانو او مذاهبو کي هاغه که بودایی دی که یهودی ، عیسوی دی او که اسلامی وجود لری.

## زه چُپ زه ګنګه؛ ایا دا هم افسانه ده ؟

که "رستم " وی عمر کړی سوه کاله ، حقیقت وی

د " نوخ " سوه کاله عمر یوه بی ځایه افسانه ده ؟

که د "دوش ضحاک " له مخه مار پیدا او حقیقت وی

د "موسی" عصا بدله چه په مار شوه افسانه ده ؟

که پرواز د "کیکاووس" بیا د عقاب سره حقیقت وی

"سلیمان" په قالین ناست پرواز چی وکړه افسانه ده ؟

که "سیاوش" بیا سلامت له اوره تیر وی حقیقت وی

"ابراهیم " چی اور نه ووت دا بی باکه افسانه ده ؟
که "بیژند "وی په اوبو کی وخت تیر کړی حقیقت وی
د " یوسف " چاه کی ژوندن بی منطقه افسانه ده ؟
که "کاوه " , "ضحاک" وی وړی د خپل مخه حقیقت وی
چی "موسی "، "فرعون " نابود کړ دا د مخه افسانه ده ؟
پرورش د " زال "، سیمرغ سره که دا هم حقیقت وی
د " یونس " ژوند نهنګ ګیډ کی، ګوره بده افسانه ده ؟
قاسم باز
سپرنګ فیلد ، ویرجینیا . ۲/۲۵/۱۲